انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۰٤

# پردی نوکر د کور دښمن

لیکونکی: م . ا . نګار ګر

ژباړه او لنډیز: انجنیر سلطان جان کلیوال

**لمړی برخه**

یاد ونه:[ څلور کاله د مخه ماته د کانادا د تورنتو په ښار کی د یوه مشر دوست او د افغانستان د تعلیم او تر بیی د برخی یوه خدمتګار مرحوم محمد نبی وفایی صاحب ( دوه کاله وړاندی وفات شوی) د وطن د یوه ادبی شخصیت، عالم او عارف جناب محمداسحق نګارګر صاحب په قلم لیکل شوی ، ډیره په زړه پوری یوه ښه اوږده مقاله چی په دری ژبه لیکل شوی وه راکړه او غوښتنه یی رانه وکړه چی که تر لوستلو وروسته یی په پښتو ژبه را واړوم. ما دا مقاله ولوستله او په یقین سره می ډیره خوښه شوه.

مقاله اوږده وه او ما په لنډیز سره هغه را ژباړلی ده. زه باوری یم چی زما په ژباړنه کی به ضرور نیمګړ تیاوی وی، چی له همدی امله د جناب نګارګر صاحب نه په لومړی سر کی او له درنو لوستونکو په وروستو کی د ټولو نیمګړتیاو بخښنه غواړم او هیله لرم چی تاسو ته تری څه ګټه ورسی. همدارنګه غواړم عرض کړم چی د دی مقالی د پاره محترم استاد نګارګر ممکن کوم عنوان نه وی ټاکلی او یا دغه لیکنه چی زما لاس ته رارسیدلی شاید بی عنوانه وی، خو ما د لوستلو نه وروسته ( د نګارګر صاحب نه په بخښنه) ورته پورته عنوان یا سرلیک ورکړ. هیله ده چی د مقالی د محتوا سره به یی اړخ لګولی وی.

په ډیر درنښت. انجنیر کلیوال.]

دا مقاله په دی بیت سره پیل شویده:

زاغکی شامګهی جلوه طاوسی کرد

صبحدم فاش شد آن راز ز رفتار چند

پښتو ژباړه :

کارغه ځان لکه طاوس ماښام کی وښود

خو سهار یی راز ځرګند شو له رفتاره

** * **



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

## فریادی از دیار خون وخاکستر

## بـرادر با بـرادر حسابش برابر

پښتو ژباړه:

غږ را پورته شو له وینو او ایرو

چې وروري سره کوو حساب تر منځ

کلیوال

که د روسانو سره د د مخامخ جګړې کلونه د مبارزې او مقابلې کلونه وو او زمونږ خلکو ته یې د دې وخت ورکړ چې د خپل اریانونکې جنګ د اتل ولې کیسې د خپلو هډوکو په قلم او د خپلو سرو وینو په رنګ د هندو کش، بابا، شمشاد او سپین غر د غرونو د د لوړو څوکو کانو پرتختو ولیکی او د تاریخ د شپیلې غږونکې د پاره د آزادۍ غوښتنې ترانې تصنیف کاندې چې تر کلونو کلونو پورې یې دزماني د زوراورو په غوږونو کې زمزمه کاندې، او هغوی په دې وپوهوی چې د اسارت دامونه دې چیرې کوم بل مرغه ته په بل ځای کې و غوړوی، ځکه چې د افغانستان د ګوربت ځاله ډیره لوړه ده. ولی له بده مرغه له بلې خوا د روسانو سره د مبارزې د نا انډوله خونړې جګړې په همدې کلونو کې مونږ دې ته مجبور کړو چې د ګاونډیانو په کوړونو ورننوځو او د پردیو د ډوډې او بو سره اموخت واخلو. او س هماغو خوړلو او څښلو چې د پردیو له کاسې نه مو کړیدی، زمونږ په خوی او خصلت باندې خپل تاثیر پریښې او مونږ دې ته را کشوی چې د همدې ګاونډیانو په ګټه په خپل منځ کې یو بل ته د شک او بې باورۍ په سترګه وګورو او د مور نه له مهربانې دایې څخه و غواړو چې زمونږ د حقه حقوقو د لاس ته راوړلو د پاره د قضاوت په ګدۍ کښینې او لکه د اجرتی غمشریکانو په توګه له مونږ سره غمشریکی و کاندی.

د جګړې په کلونو کې زمونږ خلک دې ته اړ شول چې خپل پوله پټې پریدی او د کر کیلې نه لاس واخلې، ځکه نه یې شو کولی چې دوه هندوانې په یوه لاس کې ونیسی ( هم جګړه او هم کرهڼه ). زمونږ له دې حالت نه روسانو او نورو همسایه ګانو پوره ګټه پورته کړه، هلته په افغانستان کې دننه د افغانانو لاس د روسانو تعاونې مالونو ته اوږد او غزیدلی پاتې شو او دلته د پاکستان او ایران په کمپونو کې زمونږ سترګې د عربو او عجمو په خرما او غوښو کې بندې پاتې شوې.

یو ملت چې پوره څوارلس کاله یې ټولی اقتصادی ریښې وچې شوی وی، حتمی او ضروری په یوه ګدا او سوالګر ملت تبدیلیږی او د نورو د لاس نیوی د پاره اړ کیږی. دغه د نورو لاس نیوی بیا په دوی کې د سر ټیټی او شرم یو احساس را پیدا کوی چې هیڅکله دغه اړ مند او محتاج د خپل مرستندوی سترګو ته نیغ نه شی کتلی. که چیرې د ګاونډیانو په ملکونو کې مونږ ته د دې موقع راکړله شوی وای چې د خپلو متو او کارو زیار په نتیجه کې مو یوه مړی ډوډې ځانله تیاره کړی وای او د تنظیمونو سوالګرو او ګدایی ګرو مشرانو د یوی خیمی او یو بوتل دوا د پاره د هر کافر او مسلمان دروازې ته نه وایی استولی او د نورو په ډوډې او جامو یی زمونږ غرور نه وای زخمی کړی او ننئ ستر اخلاقی انحراف چې د پیسو او قدرت د پاره د هیڅ ډول جنایت څخه مخ نه ګرځوو، زمونږ لمنه نه وایی نیولی، چې له بده مرغه نیولی ده او مونږ یی له هرې سیالی ویستلی یو. د اسلامی انقلاب هغه ډوډوره چیان چې د نړۍ په بازارونو کې به یې د اسلامی انقلاب نغاری وهلی، هماغو د خپل وطن د هر هندو او مسلمان په ننګ او ناموس حملی وکړی او د (و ما ملکت ایمانکم) په نوم یې هرڅه داسې لوټ او تالا کړل چې خلک مجبور شول چې د حضرت بیدل سره هم غږی شی او و وایی:

"بیدل" امروز در مسلمانان - همه چیز است لیک ایمان نیست.

پښتو ژباړه:

مسلمان کې نن هرڅه شته دی «بیدله» ـــ خو چې نشته پکې شي، هغه ایمان دی.

(کلیوال)

نو ایا په یوه داسې ملک کې چې وګړي یې د بې ایمانی به مرض اخته وی د دی امکان پیدا کیدلی شی چې د تیریدنی او لوریني روحیه پیاوړتیا وموسی او وطنی او ملي ګټي پر شخصي ګټو لوړی وګڼلی شي؟

همدا نن مونږ د ګا ونډیانو په دستور او قومانده د « پشتون های فاشست»، « ازبکهای خام کله» ، « هزاره های قلفکچپات» او بلاخره « تاجکهای زورګو و غاصب» د نومونو په یادولو یو د بل په مقابل کې ولاړ یو او بی د تویک له ژبی په بل ژبه خبری نه سره کوو. او بیا هم د همدی ګاونډیانو دستور او غوښتنه ده چې ډیري مهمی خپل منځی خبری له پامه وغورځوو او خپل مخالفتونه په دی بانه او پلمه لاپسی زیات کړو چې فلاني کلمی له فلانی ژبي څخه زمونږ په خوږه ژبه باندی تحمیل شویدی، که څه هم لا تر اوسه مو د سختو لارو د وهلو خولی نه دی وچې شوی، خو غواړو چې تر هرڅه د مخه خپله ژبه د پردې ژبي د تحمیل شوو کلیمو څخه پاک کړو. او بیا هم د همسایه غوښتنه ده چې «افغان» په «افغانستاني» او «افغانستاني» په «خراساني» واړوو، او کنه خو د «افغان» د کلمي د کارولو په هکله خو تاریخ ډیر روښانه او څرګند دی. بیا هم همدا او همدی ته ورته لاملونه دی چې مونږ دی ته اړباسی چې د هغو نومونو په هکله چې شاید په تصادفی توګه د ښونځي په کتابونو کی راغلی وی طبقاتی دریځ غوره کړو او «زلمی» او «اسد» او «بیګم» یو د بل په وړاندی ودروو او دا کاملاً له یاده وباسو چې که خدمتګاری « بیګم » وجود در لود نو بیا دننی افغانستان د مؤسس اعلیحضرت احمدشاه بابا له زماني راپیل کیږی چې په هماغه وخت کې درویش علی خان هزاره د هرات والي و، عباس قلی خان بیات د نیشاپور والي و ، شاه رخ افشار د مشهد والی و، میرزا هادی خان قزلباش د دارالانشاء رئیس و او میرزا علی رضا خان قزلباش د دیوان اعلی مستوفی و.

همدی حقیقت ته په کتو سره یو قدم مخ ته راځو او وایو چې « فدرالیسم » د وینو او ایرو په وطن او په هسی شرایطو کی چې هر ډول اجتماعی نظم پکی له منځه تللی دی او یواځې د زور او کلاشنکوف ژبی پکی تسلط لری خو ددی سره سره بیا هم د «فدرالیسم » زمزمي غوږو ته را رسیږی. که چیری دا سیستم یعنی فدرالیسم د افغانستان د پاره بنه او ګټور وی نو سل چنده زیات به دا ونه د ایران په باغ کی بنه میوه ونیسی، ځکه هغوی نسبت مونږ ته مالدار، پیسه دار او د یوه بهتر اجتماعی نظم لرونکی دی. په ایران کی هم سنیان، کردان، بلوڅان او نور اقلیتونه ژوند کوی، چې د اسلامی انقلاب له هماغي اولي ورځی څخه تر دا ننه پوری د ایران د رژیم په وړاندی وسله واله مبارزه کوی، نو که د ایران اسلامی رژیم د ټولنیز عدالت غوښتونکی وی نو تر ټولو د مخه باید د خپلو لړکیو سو ساندو ته غوږ شی او د مولانا خبره:

تو کز عشق حقیقت نالی ای دوست

خراشي سوزني بنمای در پوست

پښتو ژباړه:

چې د عشق له حقیقته شکایت کړی

شی به پوه که دی پوټکی په ستن خط کړی

کلیوال

ومو ویل چی زمونږ د خلکو تر منځ د ژبنیو او نورو اختلافونو هرزه بوټي د پردیو له ویالو څخه خړوب کیږی، نو اړینه ده چی په دی برخه کی ځنی اسناد او مدارک وړاندی شی او د همدی اسنادو او مدارکو په رڼا کی د خپلوو ایرانيي ورونو سره حساب وکړو لکه په پښتوکی چی وایی« ورورى کوو حساب ترمنځ»

لومړی سند: د ایران محترم تاریخ لیکونکی د خپلو افغانی ورونو په هکله هماغه چټیات چی انګریزانو لیکلی دی تکراروی او وایی چی:

« د افغانستان هیواد د (خراسانی) نادرشاه نه د مخه مستقل تاریخ نه لری، د دی هیواد تاریخ یا د ایران او یا د هندوستان د پاچا هانو د تاریخ په لړ کی د جز په توګه زکر شویدی. د دی هیواد مستقل تاریخ له (۱۱۶۰) هجری کال یا له (۱۷۴۷) میلادی کال څخه را پیل کیږی او دا هماغه وخت دی چی احمدشاه درانی په قند هارکی مستقل او خپلواک دولت را منځ ته کوی ....... په ځانګړی توګه وعده خلافی د افاغنه و یو عمومی صفت دی او دوه مخی توب، چل ول، دروغ ویل او یو د بل سره خیانت د افغانستان په ټول تاریخ کی د افغانانو یو ځانګړی صفت ګڼل شویدی. ......... کوم شی چی له دی تاریخ څخه مونږ ایرانیان باید زده کړو همه دادی چی : مونږ باید هیڅکله دا هیره نکړو او په پوره باور او د زړه له کومی داخبره ومنو چی د افغانانو ملت او دولت په عمومی توګه او افاغنه وګړی بی له استثنا هر څه چی وای هغه دروغ دی، د هغوی هیڅ قسم او سوګند او وعده که په قرآن کی هم مهر ولګوی په هیڅ وجه وربا‌ندی باور نه شی کیدای او د منلو وړ نه دی. افغانان باید و ویرول شی» ( د افغانستان سیاسی تاریخ د سید مهدی فرخ لیکنه د ایران چاپ. د مرحوم غبار په نقل قول د ایران چاپ ۴۷۷ مخ)

ښه نو چی د پیر قضاوت د یوی ټولنی په هکله دومره قطعی او د هیڅ ډول تغیر وړ نه وی نو مریدان او پیروان خو بیخی حق لری چی له خپل «افغانیت » څخه منکر شی او ځان « خراسانی » و بولی، تر څو د نادر افشار سره همغاړی شي. مګر مرحوم غبار بی له دی چی ایرانی ورونه توهین او سپک کاندی په ډیره سړه سینه د « لارد کرزن» یو ډیر ښه پیژندل شوی قضاوت د ایرانی په هکله داسی رانقلوی : « د ایرانیانو جوړښت ځانته بیلی بیلی بنی غوره کړیدی چی په نوره نړی کی داسی جوړښتونه ډیر لږ دی. ایرانیان با پرده او مؤدب نژاد دی ...... له بله پلوه ریاکار او فاسد دی، جرئت او استقامت نه لری، د اخلاقو او نورو اوصافو له مخی د هغو ملتونو سره چی دوی یی احاطه کړیدی هیڅ ورته والی نه لری، دوی د کردانو غوندی ظالم او وینی تویونکی، د افغانانو غوندی انتقام جو او کینه کښ، د تر کانو غوندی مغرور او خود خواه او د هندیانو غوندی سست او بی بندو باره نه دی. ایرانیان لوړ اوصاف او اخلاق لری خو په مجموعی توګه له نیکو او سترو او صافو نه بی برخی دی، کولای شو چی دوی یواځی په یو ه صفت سره وپیژنو او هغه دروغ وینه ده ....... زه په دی پوره باوری شوی یم چی یواصیل ایرانی تر څو چی دروغ پیدا کولی شی رښتیا نه وایی، او که چیری په تصادفی توګه د کوم یوه د خولی نه رښتیا خبره را ووځی نو د هغه داخل احساس به تر ښه ډیره وخته پوری هغه ملامت کړی او په رښتیا ویلو به یی پښیمانه کړی. .....» (غبار ۴۷۸)

( یادونه: په مقاله کی دریم عدد سم نه لوستل کیږی چی دری به وی که څلور. ژباړن)

دلمړی برخی پای

نور بیا